بسم الله الرحمن الرحيم

## د استانبول هوکړه؛ له تاوتریخوالي سره مبارزه، که د اسلام پر وړاندې جګړه؟

## (ژباړه)

د کورنیو او مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مبارزې په اړه د اروپا د شورا کنوانسیون یا د استانبول کوانسیون هغه هوکړه ده چې د اسلام تمدن په نښه کوي، که څه هم په ښکاره د مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي مبارزه ده. د دې هوکړې اصلي هسته په یو جسورانه اقدام کې د مېرمنو په اړه د شرعي احکامو په نښه کول او د مسلمانې کورنۍ له منځه وړل دي.

دا لومړۍ هوکړه نه ده او له پخوانیو مواردو بېله نه ده، که څه هم وضع کوونکې یې د اورپا شورا ده او د ملګرو ملتونو له لوري نه ده چمتو شوې، خو په مقدمه کې د نړیوالو هوکړو د رعایت پر اساس د ملګرو ملتونو د ملاتړ یادونه کوي. د بېلګې په توګه:

- د ١٩٦٦ م کال د اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي حقونو نړیوال کنوانسیون؛

- (١٩٧٩) د مېرمنو پر وړاندې د هر ډول تبعیض له منځه وړلو لپاره د ملګرو ملتونو کنوانسیون «سیداو» او (١٩٩٩) د هغه اختیاري پروتکل او همدارنګه د مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي په اړه د سیداو کمېټې د ١٩ عمومي شمارې لارښوونې؛

- (١٩٨٩) د ملګرو ملتونو د ماشوم حقونو کنوانسیون او (٢٠٠٠) د هغه اختیاري پروتکلونه او داسې نور موارد...

اسلامي ارزښتونو او اخلاقو ته د دې هوکړې د ګواښ لپاره په مقدمه کې څو ټکي تجزیه، تحلیل او هغه نقدوو:

١- «د دې تشخیص چې په قانون کې د سړي او ښځې مساوات او په حقیقت کې دا څه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په مخنیوي کې یو اساسي عنصر دی.»

په دې ځای کې وينو چې ياد کنوانسيون پخپله مقدمه کې د تاوتريخوالي پر وړاندې د مساواتو موضوع د مېرمنو په ملاتړ پورې تړي، چې ګواکي د مساواتو نشت پخپلسري ډول د مېرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي په مانا دی. دا نه يوازې له حقيقت او واقعيت څخه ناوړه ګټه اخيستل دي، بلکې پر اسلامي شريعت څرګند بريد دی چې د سړي او ښځې تر منځ د عدالت پر ارزښت ولاړ دی. د بېلګې په توګه: کله چې الله سبحانه وتعالی په خصوصي ځانونو کې د مېرمنو او سړيو تر منځ اختلاط منع کوي او د واده عقد سړي ته ورکوي، نه مېرمنې ته، يا د ژوند قيموميت نارينه ته ورکوي، پر همدغه اساس، له شرعي لحاظه هغه د کورنۍ رييس دی؛ نه ښځه. کله چې د سرپرست له اجازې پرته له باکرې سره واده منع شوی، کله چې له محرم پرته سفر منع شوی او کله چې په امامت کې نارينتوب شرط ياد شوی، دا ټول شرعي احکام په کنوانسيون کې د مېرمنو پر وړاندې تبعيض او د مېرمنې او سړي تر منځ د مساواتو نشت شمېرل کېږي. د هغوی د فهم پر اساس، دغه اسلامي احکام د فردي او ټولنيز روزنځي د رامنځته کېدو لامل کېږي، چې د مېرمنو پر وړاندې د تبعيض برخه پياوړې کوي، د هغوی ارزښتونه راټيټوي او په راتلونکي کې د نارينه وو ټولنه تربيه کوي؛ چې مېرمن تر هغه وروسته په ټولنه کې خپل ځان د يو فرد په توګه په ټيټه کچه کې ويني. همدارنګه دا هر څه په ټولنه کې پر مېرمنو د بريد لامل کېږي او د هغې کم ګڼل يو طبيعي امر بولي. دا خپل حق بولي چې د ښځې په پرتله سړي ته په اسلام کې غوره ځای ورکړل شوی، چې دا په ټوليز ډول له اسلام څخه د سېکولرانو برداشت دی. هغوی د الله سبحانه وتعالی هغه احکام چې مېرمن له سړي پرته او سړی له مېرمنې پرته وي، داسې تفسيروي چې ګواکي دا يو ډول تبعيض دی چې په ټولنه کې د مېرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي او سپکاوي فرهنګ رامنځته کوي.

## ۲- دا تشخيص چې د مېرمنو پر وړاندې تاوتريخوالی د ښځو او سړيو تر منځ تاريخي او نابرابر تعادل ښيي، دا هر څه پر مېرمنو د سړيو واکمني او د هغوی پر وړاندې تبعيض کېږي او مېرمنې له بشپړې ازادۍ محروموي.

دا ټکي پورتني موارد تاييدوي او د مېرمنو او سړيو تر منځ اړيکه پر شخړو او نزاع محدودوي، يعنې د هغوی ډېر مفاهېم د هغه ديد پر اساس دي چې د مېرمنو او سړيو تر منځ تاريخي رقابت شتون لري او پر ښځه د سړي يوه تاريخي بريا شته ده. «تاريخي» اصطلاح دلته ټولو فرهنګونو او اديانو ته

اشاره لري، د بېلګې په ډول: د اسلامي خاورو په اړه، له تاريخي نظره د قوا توازن: د اسلام احکام دي، څنګه چې عبدالمجيد اشرفي پخپل کتاب (الاسلام او الحداثة) «اسلام او مدرنيته» په ۲۲۵مه پاڼه کې ذکر کړي: «په ټوليز ډول په اسلامي ټولنه او په ځانګړي ډول په عربي ټولنه کې د مېرمنو د ناسم حالت په اړه ناوړه افکار د اسلام ځانګړو احکامو ته ورګرځي، چې په ټولنيز ژوند کې يې د هغوی ژوند مختل کړی او هغه يې د يو نارينه، پلار او مېړه په واک کې ورکړې او په کور کې يې بندي کړې ده، څو ښځه د ګټې اخيستنې وسيله، زېږوونکې او خدمتګاره وي.»

دا همغه د «ادونيس» برداشت دی چې پخپل کتاب «ثابت او متحول» کې يې ياد کړی او دې ته اشاره لري چې اسلام په حقيت کې ښځې له ډېرى ټولنيزو او انساني محدوديتونو سره مخ کړې دي، په دې توپير چې اسلام هغې ته د کتلو ماهيت بدل نه کړ. پر همدغه اساس، دغه ناوړه ديد هغه څه دي چې له اسلام څخه په وروسته ټولنه کې هم موجود و. هغه څه چې مستشرق ادونيس او عبدالمجيد اشرفي وايي، په غرب کې د سېکولر پوهانو له خبرو له انعکاس پرته بل څه نه دي، ځکه د هغوی ټولو نظر دا دی چې د سړي او ښځې تر منځ نامتعادل تاريخي ميزان له دين، اداب، فرهنګ او ټولنيزو تاريخي اقداماتو له امله دی، چې ريښه يې د مېرمنو سپکاوی او له هغې څخه د غلامې په توګه ګټه اخيستل دي.

پر همدغه فاسد بنسټ د استانبول هوکړه پېيل شوې ده، چې په تونس کې سياسي او اکاډميک مخکښان يې تصويبوي چې په دې سره د مېرمنو پر وړاندې له تاوتريخوالي څخه په ګټې اخيستنې په ټولنه کې له يوې افراطي فمينستي ايډيولوژۍ څخه د تېرېدوو لپاره سېکولر مفاهېم خپاره کړي. همدارنګه تر هغه ناوړه دا چې په ټولنه کې د همجنس ګرايانو ايډيولوژي خوره کړه، هغه څه چې غرب ورته اشاره کوي (د LGPT) انجمن.

**3- «دا تشخيص چې د مېرمنو پر وړاندې د تاوتريخوالي جوړښت ماهيت د جنسيت پر اساس دی او د مېرمنو پر وړاندې تاوتريخوالی هغه برنامې دي چې پر اساس يې مېرمنې په ټولنيز او سياسي موقعيت کې د سړيو تابع ساتل کېږي.»**

د استانبول کنوانسیون د مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي ماهیت، که هغه په کور کې د مېړه، ورور او یا پلار له لوري او یا په ټولیز ډول د سړیو له لوري ترسره کېږي، له نارینه وو سره د شته نفسیې او افکارو پایله بولي. کله چې هغه له مېرمنې سره تاوتریخوالی ترسره کوي، دلیل یې دا دی چې نارینه پر دې باور لري چې مېرمن له دې پرته په بل څه نه پوهېږي. سېکولران یوه مشهوره جمله موږ ته رایادوي چې «مېرمنې یوازې په ډبولو پوهېږي» ده. په دې مانا چې زموږ په ټولنه کې د سړیو نظر دا دی چې له مخالف جنس سره اړیکه درلودل یعنې له ښځې سره، تاوتریخوالی دی چې د سړي د غوښتنو مطابق شي او دا مفهوم ډېر گواښوونکی دی؛ ځکه د مېرمنې تر منځ د شخړو لپاره دروازه پرانیزي، هغه که په کورنۍ کې وي او یا په عمومي ژوند کې. د مسلمانانو اتفاق یې سخت کړی او په عمومي ژوند کې به د مېرمنو او سړیو تر منځ همکاري له منځه یوسي.

پر دې سربېره، دا یو محض دروغ دي او هغه جعل دی چې د اصلي تاوتریخوالي پر وړاندې خپلې سترگې پټوي او هغه ته اشاره نه کوي، چې هغه د نشه‌يي توکو او الکولي مشروباتو کارول دي. د منفعت غوښتونکي پانگوالي نظام په برکت چې له الکولي مشروباتو څخه مالیه اخلي.

نشه‌يي توکي او شراب د انسان عقل له منځه وړي او دا د اسلام عدالت دی چې شراب څښونکی باید په لښتو ووهل شي، څو هغه په ټولنه کې د شرابو خوړېدو له گواښونو څخه خبر کړي. له بل لوري د الله سبحانه وتعالی حکم دی چې الله سبحانه وتعالی د هغه مسلمان نېک عملونه نه مني چې شراب څښي، پلوري او پېرېي. دا هر څه باطل دي. شراب څښونکی هغه څوک دی چې د عقل ځانگړنې یې د لنډمهال لپاره له منځه ځي او پر همدغه اساس، هغه کس چې شراب وڅښي، د هغه تر اغېز لاندې له ارادې پرته هر ډول تاوتریخوالی ترسره کوي، ځکه هغه مهال د یاد انسان عقل نه وي. پر همدغه بنسټ، اسلام موږ ته راښيي چې انسان په عام ډول او سړی په ځانگړي ډول که په هوښیار حالت کې وي او عقل یې شتون ولري، په فطري ډول ناوړه عمل نه ترسره کوي. په نارینه کې اساسي اصل دا دی چې پر ښځه ظلم نه کوي. نشه‌يي توکي د مېرمنو پر وړاندې په تاوتریخوالي او جنایتونو کې ستره ونډه لري.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجاً لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [روم: 21]

ژباړه: *د الله سبحانه وتعالی د قدرت یوه نښه دا ده چې مېرمنې يې ستاسو له خپل جنس څخه پیدا کړې دي، څو د هغوی تر څنګ ارامي پیدا کړئ او ستاسو په منځ يې مینه او رحمت رامنځته کړل. دا د هغو ډلو لپاره نښې دي چې فکر کوي.*

دغه عبارت **"لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا"** پرېکنده دلیل دی چې اساسي اصل دا دی چې سړی مینې او محبت ته رسېږي، کله چې د خپلې مېرمنې تر څنګ وي او برعکس هغه هم داسې ده. په پایله کې، کرکه، سپکاوی او ناوړه کړنې د انسان یو جز ګڼل له هغه څه سره په ټکر کې دي چې الله سبحانه وتعالی د انسان د فطرت او طبعیت په اړه ویلي دي. په همدغه ترتیب: د هغو مفاهېمو خطر چې د ستانبول هوکړه پرې پیل شوې، د هغه پر اساس ده او دا هر څه له اسلام سره په ټکر کې دي.

**#د استانبول هوکړه _ جنایت دی**

**#لاسلیک_ودروئ**

**کلیواله: استاد زینة الصامت**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**

لنډې جملې:

په نارینه کې اساسي اصل دا دی چې پر ښځه ظلم نه کوي.

د شرابو نشې په حالت کې د انسان عقل نه وي او هر ډول تاوتریخوالی ترسره کوي.

اسلام موږ ته رانښيي چې انسان په هوښيار حالت کې په فطري ډول ناوړه کړنه نه ترسره کوي.

نشه‌يي توکي د مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي په ترسره کولو کې ستره ونډه لري.